مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

فدامحمد نومیر
۲۰۲۱/۱۱/۲۳

# سپین سهار

په تيارو پسې  هميش ګوره رڼا وي
توره شپه کې ځرک ښکاره تل د سبأ وي

کوم ويالـه کې چې يوځل اوبه وي تللي
بهيدل د اوبو بيا پکې بيا بيا وي

چې خدمت د کلي کور يې پيشه کړی
هغه کس د لوی واړه زړه کې بابا وي

څو چې خوږ نسي نو پوه به په خوږ نسي
هر يو خوږ ته د طبيب لاس کې دوا وي

چې دښمن نه وي صفت د دښمن څه دی
د مصلح سري دښمن توله  دنيا وي

په سختيو باندې صبر دی راغلی
چې سختی نه وي دصبر څه معنا وي

د دښمن مقابله وسې په صبر
د دښمن ښخه ګيله لار د خطأ وي

ناهيلي د مسلمان سره نه ښايي
ناهيلي دين او دنيا لره بلا وي

که بې علم پر دريغ ولاړ وي تر ماښامه
د نادان د وعظ اغيز کله په چا وي

د فرعون هامان لښکرې چيرې لاړل
انتها د هر باطل اخير فنأ وي

څوک چې کاندي د اوبو په وراندې لوبه
ځان به غرق کأ ځکه اخستی وارخطأ وي

نومير وليد سپين سهار پسله تورتمه
خدای دې وکأ د تورتم دا انتها وي

۲۰ - اکتوبر - ۲۰۲۱
متحده ایالات ، کلفورنیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ